محمدصفر خواریکښ

## د افغانانو په همت

## د پاکستان" رنګېدو د مهال سنج چپه شمېر پیل شو

مخکې لدې چې د "پاکستان" د تجزیې او ټوټه ټوټه کېدو په باب څه ولیکم، د دې جعلي هېواد د ناجایز زېږد د څرنګوالي او مخینې په باب لنډ مالومات وړاندې کول اړین بولم.

د بریتانیا ښکیلاک د نورو ملکونو د شتمنیو لوټلو او ولسونو ایلولو په موخه له بېلابیلو تکتیکونو او فرېبونو کار اخلي. د هند د نیمې وچې د شتمنیو لوټلو او د خلکو ښکېلولو لپاره یې د سوادګرۍ په پلمه لومړی په ۱۶۰۸ز کې د شرق‌الهند بریتانوي کمپنۍ (British East Indian Company) هند ته ولېږله. دغه کمپنۍ څو کاله وروسته په ۱۶۱۳ز کال کې رسمي سوداګریز مرکزونه جوړ او ورو ورو یې سوداګري په سیاسي او پوځي واک بدله کړه. په ۱۸۵۸ز کال کې د شرق‌الهند کمپنۍ واک ختم او هند په مستقیمه توګه د بریتانیا تر استعمار لاندې شو. دغه مستقیم ښکیلاک تر ۱۹۴۷ز پورې شاوخوا ۱۹۰ کاله دوام درلود.

کله چې بریتانوي ښکیلالک له دویمې نړۍ والې جګړې وروسته نور د هند پر نیمې وچې د مستقیم ښکېلاک توان نه درلود او له هند وتلو ته اړ ایستل شو. نو ویې پتېیله له هرې لارې او په هر نیرنګ چې شونې وي، په سیمه کې خپل لاس‌پوڅی واک ته ورسوي، ترڅو په راتلونکې کې د دوی نامشروع ګټې تأمین کړي. انګرېزانو د محمدعلی جناح په نوم لاس پوڅی چې لا د مخه یې په همدې موخه په بریتانیا کې روزلی و، د دې کار لپاره غوره کړ.

په ۱۹۴۷ز کال کې د هند له نیمې وچې یې یوه برخه راجلا او د پښتنو او بلوڅو پلرنۍ جغرافیه یې ورسر پیوند او د "پاکستان" په نوم یې یو جعلی هیواد جوړ کړ. خو دا ناجایز هېواد چې د پښتنو او بلوڅو د ارادې خلاف د میلیونې هندي مسلمانانو، هندوانو او سیکانو او ان په اوسنې "پاکستان" بلوچستان او پښتونخواه کې میشت هندوانو او سیکانو د ارادې او نظر خلاف د انګرېزي ښکېلاک په اراده جوړ شو،

له هماغه پیله یې په ځان کې د تجزیې پوټنسیل او تومنه درلوده.

د یادونې وړ ده چې د هند له نیمې وچې د "پاکستان" په جعلي نوم د یوې ټوټې ځمکې بېلولو د داسې خونړۍ ناورین بنه درلوده چې د تاریخ حافظه به یې هېر نکړای شي. د بېلوالي په دغه ناورین کې د سرحدي کرښې له اعلامېدو وروسته او د ویش له بشپړېدو مخکې، لږ تر لږه ۱۵ میلیونه وګړي مسلمانان له هند نه پاکستان ته او هندوان او سیکان له "پاکستان" نه هند ته د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ ایستل شول، او له خپلو کورونو او شتمنیو تش لاسونه ووتل.

دا د بشریت په تاریخ کې تر ټولو ستره جبري او له زورزیاتي سره مل کډوالي وه. د ښځو او ماشومانو په ګډون له یو تر دوه میلیونه انسانان پکې ووژل شول، ژور انساني بحرانونه را منځته شول، کورنۍ سره جلا شوې، له هغو ځمکو او کورونو چې پکې زېږېدلي او ټول ژوند یې پکې تېر کړې وو، لاس ترغوړ ووتل او کلونه کلونه یې د کډوالو په پنډغالو کې ژوند تېر کړ. د دواړو لورو - مسلمانانو او هندوانو- ښځو او ماشومانو په دغه دهشت او بربریت کې سخت زیان ولید؛ جنسي ځورونې، تښتونې او له نورو سلګونو جنایتونو سره مخ شول. پر مذهبي کرکې او تاوتریخوالي سربېره د قومي او ژبني اختلافونو او شخړو تخمونه هماغه مهال د محمدعلي جناح په واکمنۍ کې کرل شوي او تر اوسه د پاکستان د پوځي ادارې او استبلیشمنت لخوا خړوبېږي او وده کوي.

د قومي، مذهبي دهشتونو او ژورو انساني بحرانونو تر څنګ، د اقتصادي زېرمو غېرعادلانه ویش هم ترسره شوی چې په اقتصاد او سوداګرۍ کې یې ستونزې رامنځته کړې دي. د اوبو د سرچینو پر سرلانجې؛ د سیمې مهم سیندونه لکه د سند سیند او ورسره نور ښاخونه یې د دواړو هېوادونو په سرحدي سیمو کې راغلل، د اوبو د حق پر سر اختلافات او لانجې رامنځته شوې چې تر کلونو یې دوام درلود او لا تراوسه هم حل ندي.

همدارنګه د اوږدمهاله پوځي او سیاسي کړکېچونو په لړ کې له هند سره د کشمیر او افغانستان سره د ډېورینډ د فرضي کرښې مسأله سترې سیاسي ستونزې دي، چې بریتانوي ښکېلاک په قصدي توګه په دې سیمه کې د همېشنیو لانجو په توګه

پرېښي چې تر دې دمه د هند او ”پاکستان“ ترمنځ د پنځو جګړو او له افغانستان سره وار وار د سرحدي شخړو لامل شوي دي.

دغه ټول او ورسره د دهشت، زورزياتي، کډوالۍ او بې کورۍ ترخو خاطراتو د خلکو د حافظې تل کې ځای نیولی، چې اغېزې يې تر اوسه د دواړو هېوادونو په ټولنيزو او سياسي اړيکو، ادبياتو، سينما او آن د سپورت په ډګرونو کې نه يوازې په هند او ”پاکستان“ کې ليدل کېږي؛ بلکې د پښتنو، بلوڅو او سنديانو داسې کرکه هم راپاروي چې ”پاکستان“ د ړنګېدو او ټوټه ټوټه کېدو لار يې جوړه کړې ده. پدې لارې د تګ اسانتياوې مېړنيو افغانانو د ”پاکستان“ د وروستيو تېريو او پر ملکي وګړو د بمباريو په غچ اخيسونکي عملياتو کې برابرې او چټکې کړې.

اوس نو هغه وخت رارسېدلی دي چې په جعلي ”پاکستان“ کې د پوځي ادارې او استبليشمنت ټول مخالفين، بلوڅ آزادي غوښتونکي غورځنګ، پښتون ژغورنې غورځنګ، د پاکستان د طالبانو تحريک (پي.ټي.ټي)، بلوڅ بېلتون‌پالي، له ميلوګانو پرته د عوامي نشنل پارټۍ قام‌پالي کسان، سيندي آزادي غوښتونکي او نور خواره واره لوی او کوچني ګوندونه او هغه کسان چې په "پاکستان" پوځ او ملېشو کې نوکران دي او وجدان يې يوذره پاتې او په بشپړه توګه له منځه نه وي تللی، د پوځي ادارې او استخباراتو د خپل‌سرو کړنو هدفي وژنو او زور زياتی په خلاف په ګډه له يو سنګر نه د پوځي ادارې په وړاندې پاڅېږي او خپل حقونه ترلاسه کړي.

د ”پاکستان“ لوړپوړي پوځي افسران له جنرال ضياءالحق نه تر پخپل سر مارشال عاصم پورې د اجرتي قاتلانو سرغنه دي. جنرال ضياء د۱۹۷۰ز کال په سپتمبر کې چې د اردن پاچا ملک حسين په هېواد کې د خپل شاهي حکومت د راستنولو لپاره او د فلسطيني سازمانونو د خودمختارۍ د لغو کولو لپاره خشونت پيل کړې وو، جنرال ضياء د ”پاکستان“ د کرايي پوځ د قومندان په توګه ۲۵۰۰۰ فلسطينيان په څو ورځو کې ووژل، چې د عربو په تاريخ کې دغه مياشت د «تور سپتمبر» په نوم يادېږي.

د اجرتي قاتل په توګه د ضياءالحق د چړاو شدت دومره زيات وو چې د اسرائيلو يو بنسټ ايښودونکي موشي دايان وويل: «ملک حسين د پاکستان د پوځ ضياءالحق

په مرسته په اردن کې د فلسطیني اډو د له منځه وړلو لپاره ولېږه، بې شمېره ټول وژنه یې وکړه. په یوولس ورځو کې یې له هغو زیات فلسطینیان ووژل چې اسرائیل وکولای شي په راتلونکو شلو کلونو کې یې ووژني.»

دا دی اوس د ضیاء خلف بې له کومې سوبې او فتحې مدام‌العمر مارشال عاصم هم د اسرائیلي صیهیونیستانو لپاره د «بلک واټر» په نقش کې د غزې د فلسطینیانو چړاو ته ګومارل شوی دی.

د "پاکستان" له جوړېدو تر دې دمه او له ضیاء تر عاصمه، د دغه هېواد د پوځ او استخباراتو ادارو کې د دیموکراسۍ، قانونیت او عدالت ډېوې مړې دي. د دې ادارو او استبلیشمنت په قاموس کې د بشردوستۍ او عاطفي لغتونه نشته دی.

هغه عامل چې تر اوسه یې "پاکستان" له دغه ټولو ناوړه کړنو؛ زورزیاتي او اداري او مالي فسادونو سره سره له ړنګېدو او تجزیې ژغورلی، نه د "پاکستاني" ټولنې انسجام او نه یې د حکومت تدابیر دي بلکې نړۍوالې ټولنې او په ځانګړې توګه لوېدیزو هېوادونو په مېخانیکي ډول په پښو ولاړ ساتلی دی.

اوس په نړۍواله کچه د "پاکستان" حیثت او پرستیژ د دوه مخۍ او درواغو له امله سخت زیانمن شوی دی. او ټولې نړۍ ته لکه لمر روښانه ده چې "پاکستان" د ترهګرو د روزونکو او صادرونکو ځاله ده. د نړۍ په هره څنډه او ګوښه کې چې د ترهګرۍ او دهشت کومه پېښه وشي د ترهګر د پښو پل هرومرو د "پاکستان" د استخباراتو په اداره ورننوزي. پدې اړوند خورا زیات کره لاس‌وندونه شته خو د کلام د اوږوالي له امله ترې تېرېږم. خو د حیثیت بایللو یو دوه مثالونه به یې د دوی د خپلو بادارانو او ولي نعمتانو له قوله ذکر کړم.

د امریکا ولسمشر دونالد ترامپ د نوي کال په ورځ په ټویټ کې ولیکل: «دا هېواد (پاکستان) امریکا ته له «درواغو او فریب» پرته بل څه نه ورکوي او په ۲۰۰۳ کال کې د ۳۳ میلیاردو ډالرو مرستې بدل کې یې د ترهګرو لپاره «خوندي پټنځای» جوړ کړی دی.»

همدارنګه د ملګرو ملتو سازمان کې د امریکا د متحدو ایالتونو پخواني سفیر زلمي خلیل‌زاد د پاکستان لپاره د بشپړې انزوا سیاست غوښتنه وکړه، ویې ویل: «که

پاکستان له رادیکالېزم او افراطیت له ملاتړ لاس وانخلي، د امریکا متحده ایالتونه باید دې هېواد ته خپلې ټولې مرستې بندې کړي...»

هغه لاملونه چې د دغه جعلي هېواد د ټوټه ټوټه کېدو او ړنګېدو لاره اواروي:

۱. سیاسي زور زیاتی او استبداد

د زور زیاتي له لارې واک چلول او ساتل، د اپوزېسیون ګواښل او ځپل. د عدالت نشتون، له عام ولس سره د "پاکستان" استخباراتي اداری (آی.اس.آی.)، پوځیانو او ملېشو د مفسدینو لخوا د زورزیاتي چلن، او په دروغجنو تورونو د سیاسي مخالفینو بدنامول، بندیانول د مرګ تر پولې شکنجه کول او استخباراتي اجیرانو په وسیله ترور کول، لکه د ګیله من وزیر، عارف وزیر، ارمان لوڼي، ستر دیني عالم مولوي منیر شاکر بونیری او مولانا خانزیب غوندې په ولس او قام مئینو شخصیتونو هدفي وژنې.

نو کله چې واک یوازې د یوې ډلې وي. ټولټاکنو کې ټګي او برګي وشي یا د ټاکنو پایلې ته غاړه کېنښودل شي، لکه په ۱۹۷۳ز کې د ذوالفقار علي بوتو د صدارت په مهال چې شیخ مجیب الرحمان په غوڅ اکثریت ټاکنې ګټلې وې، خو علي بوتو و نه منلې چې د جګړې او د"پاکستان" د تجزیې لامل شو او د بنګله دېش په نوم نوې هېواد له "پاکستان" نه جلا شو.

۲. د قومي او مذهبي بې اتفاقیو او زیاتوالی

که یو قوم د محرومیت احساس وکړي او یا مذهب د سیاست وسیله شي. د سني او شیعه او نورو مذهبي ډلو تر منځ نفاق اچول، له یو بل سره دوښمنول، لکه د "پاکستان" پلندر پلار بریتانوي ښکېلاک چې په افغانستان کې له دغه شیطاني چلن کار اخیست.

"پاکستان" له خپل ناجایز زېږد راهیسې تر اوسه هم له مذهب نه د سیاسي وسیلې په توګه ناوړه ګټه کوي. دا پخپله د بېلتون غوښتنې غورځنګونه رامنځته کوي او د تجزیې لپاره یو غښتلی لامل ګرځي.

۳. کمزوری امنیتي نظام

د فعالو وسله والو ډلو شتون چې د بريدونو له امله يې حکومتي اداري او ان پوځي مرکزونه او د پوليسو تاڼې خوندي ندي، د پاکستاني طالبانو تحريک، د بلوڅ آزادي غوښتونکو او ... پياوړې وسله والې ډلې اوس‌مهال په پراخه پيمانه له بلوچستانه تر باجوړ، تيرا، وزيرستان، پېښور او ان کراچۍ او لاهور پورې دغه راز بريدونه تر سره کوي.

٤. اقتصادي کمزورتيا او بهرني پورونه

د ”پاکستان“ اقتصاد له سخت مالي بحران سره مخامخ دی. د خلکو بېکاري، د بيو لوړوالی، انفلاسيون او د ملي کرنسۍ ټيټوالی او بې ارزښته کېدل .دا مهال د پاکستان پنځه روپۍ د افغانستان يوه افغانۍ ارښت لري او حکومت يې په پورونو چلېږي، چې تر اوسه يې څو ځله پر پخوانيو پورونو سربېره له نړۍ وال وجهي صندوق نه پور اخيستی او حکومتي مشران يې له صدراعظم شهباز شريف نه تر مريم نواز پورې د ګدايي کچکولونه په غاړه له بهرنيو ملکونو پورونه غواړي؛ چې شهباز يې په زاريو او سوالونو، مريم نواز يې په کرشمو او نازونو.

٥. پوځي او استخباراتي واک.

په "پاکستان" کې پوځ او استخباراتو واک قبضه کړی او نه يوازې داچې ډېر ځواکمن دي بلکې سخت بې‌رحمه او ظالم هم دي. پوځ او څارګره اداره آی.اس.آی. پر حکومتونو ژور اغېز لري، په سياست کې لاسوهنه کوي، په رسنيو فشار راوړي. ژورنالېستان په پېسو اخلي، او کوم ژورناليستان او سياستوال چې پر خپلو ګټو ملي ګټې غوره ګڼي او له خپل قوم او ولس سره خيانت نکوي، ځان او وجدان نه پلوري ګواښوي، بنديانوي يې او يا يې پټ او ښکاره وژني. نو ځکه ولسونه ”پاکستان“ ولسواک نه بولي بلکې د نابالغه سياسي رنډۍ په نظر ورته ګوري.

٦. ناريښتينی بهر سياست.

د "پاکستان" استبليشمنت هغه سياسې ګډۍ ده چې په بهرني سياست کې هم لکه د هيرامنډېي رنډۍ رنګين مزاجه ده او په اړيکو کې دوه مخې، نارښتينې او مقطعي خاصيت لري.

دا رنډۍ د خپلې پېښې او اندېښې پر بنیاد په یومهال څو یارانو ته د وفادارۍ ژمنې ورکوي. دغه راز له تګۍ او فریب ډک سیاست یې ماته د یوې رنګین مزاجې نجلۍ کیسه چې له یو سپین ږیري نه مې اورېدلې وه را تداعي کړه.

کیسه داسې وه: «یو وخت یوې کلیوالې نجلۍ څو یاران درلودل، چې هر یو ته یې په پټو لیدنو کتنو کې د لاس له ګوتې تار تاو کړی وو. کله به چې په کلي کې د کوم کلیوال واده وو، په وراو کې به دې رنګین مزاجې نجلۍ مسته چمبه وهله او ورسره غبرګ به یې دا سروکۍ په لوړ غږ وایه: «**د تار یاره ستا یمه!**» د دې سروکي په اورېدو سره به ټولو هغو یارانو چې تار یې ورته له ګوتې تاو کړې وو ،غاړه تازه کړه او موسکۍ به شو چې څومره لېونۍ مینه ورسره لري چې په ودونو او وراو کې یې په سندرو کې هم یادوي.»

"پاکستان" کټ مټ د همدغې رنګین مزاجې لوفرې په څېر هم د امریکا متحدو ایالتونو ګوتې ته تاري کړۍ اچولې ده او هم د چین ولسي جمهوریت ته، د امریکا په مالي ملاتړ ترهګر روزي او چینايي انجینران یې وژني، یرغملوي یې بیانو د عاملینو د پېدا کولو او له منځه وړلو په نوم له اړوند هېواد شوکه کوي. هم د عربي شېخانو لنګې غواوې د اسلام په نوم لوشي او هم د اسرائیلو لپاره د "بلک واټر" په توګه په غزه کې فلسطینیان بې وسلې کوي. نور نړۍوالو ته دغه د دوه مخۍ او په اړیکو کې د تګۍ او برګۍ کړنلار او د دې سیاسي رنډۍ کرغېړنه څېره رسوا او بې اعتباره شوې ده. چین ته د نږدې والي له امله یې د لویدیزو هېوادو حساسیت پارولی دی چې خپلو ګټو ته د ګواښ په سترګو ورته ګوري.

"پاکستان" د ترهګرۍ په پلمه د افغانستان د طالبانو خلاف جګړه کې د امریکا د نړۍخور امپریالېزم د یرغلګر پوځ تر څنګ درېږي، خپله خاوره د افغانستان په خلاف د امریکا په اختیار کې ورکوي.

په لنډ بیان په "پاکستان" کې سخت او له کنترول وتلي د نني اختلافات، سیاسي بندیانولو، پر پوځ د نیوکو او ولسي اعتراضونو زیاتوالي، کمزوري اقتصاد، د بلوچستان ناارامیو، د پاکستاني طالبانو بریدونو او د ملکي وګړو په وړاندې د پوځ زور زیاتي د پاکستان سیاست سخت بې ثباته کړی او نړۍ وال حیثیت یې بایللی دی.

دا ټول دا مهال د ”پاکستان” د اداري يا زموږ د لرو پښتنو ورونو په ګړنه «استبليشمنت» يا د دې کرښو د ليکوال په قول «لوليتا» په څېړو کې د مني مړاوي ګلونه، داخلي اختلافات، اقتصادي کمزورتيا، د بلوچستان دآزادي غوښتونو وسلوالو، د پاکستان د طالبانو تحريک (پي.ټي.ټي) بريدونه. همدارنګه د منظور پښتين په مشرۍ د پښتون ژغورنې غورځنګ (پي.ټي.ام) او د پخواني منتخب صدراعظم عمران خان د پاکستان تحريک انصاف(پي.ټي.آی)سره شديد مخالفتونه ليدل کېږي چې له امله به يې "پاکستان" رنګ او ټوټه ټوټه شي.

د پورتنيو لاملونو او حقيقتونو په پام کې نيولو په ټينګار سره بيا وايم چې له بل هر مهال نه زيات د ”پاکستان” د ټوټو کېدو، د استبليشمنت د رنګېدو، د سيمې له بدن نه د سرطان د دې ناسور دانې د غوځولو او د تاريخ دېران ته د غورځولو وخت رارسېدلی دی. **د دې مهالسنج د چپه شمېر لپاره ګړۍ د افغان اتلانو د غچ اخيستونکي عملياتو په همت کوک شوه.**

**د دې ګړۍ د ښه چلېدو په هيله!**